**دڅارني دکميټی دريم راپور**
دولسی جرګی دکال ۱۳۸۹ ټول ټاکنې دمرحلی پیل دسرطان له دویمی نیټی څخه دسرطان د۲۴ نیټی پوری

**کابل : اسد ۱۳۸۹ کال**
دولسی جرګي دټاکنو مبارزه دسرطان له دویمی نیټی څخه دسرطان تر ۲۴ نیټی پوری دام لري، په افغانستان کی دازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (فیفا) په ولایاتو کي دخپلو څارونکو په واسطه دټاکنودمبارزی له بهیر څخه څارنه کوي او په ولسوالیو کي د ویږیا کارمندانو په توسط څارنه کوي، دفیفا څارونکو دټاکنو دمبارزی په لومړیو دری هفتوکي د نوماندانو ، دکمپاین مسوولینو ، دحکومت محلی کارمندانو لخوا ددولتی امکاناتو څخه په ناوړی ګټی اخستنی راپورونه ورکړل شوی دي .
دفیفا څارونکو دبی پری خلکو او نوماندانو سره دمرکو په بنا راپوربرابرکړي او دفیفا مرکزی دفتر ته یی استولی دی. دغه راپوردروان کال دولسی جرګی دټاکنو دمبارزی له پیل څخه دهیواد له مختلفو ولایتونو څخه تهی ه کړی دي.

**امنیتی حالت :**
دفیفا د۳۴ ولایتونو دڅارونکو لخوا ورکړی شوي راپورونه دی څرګندونه کوی چی دهیوا په جوبی ،جنوب شرق او بعضی شمالی ولایتونو کی امنیت وضعیت دخرابیدو په مخ راوان دي ، ددولت دوسلوالو ګروپونو لخوا ګواښونه ورکول کیږي چه له امله یی دټاکنوبهیر له ستونزو سره مخ کیږی او دغه وسلوال ګروپونه غواړی چی په ګواښونوسره دټاکنوبهیر ودره وی اویایی په وړاندی خنډان اوستونزی ایجادکړي، ددغه ګواښونو لکبله بعضی ارګانونه اوموسسات فعالیتونه له مشکل سره مواجه شویدي .
ددولت دوسلوالو مخالفینو ګواښونو دزیاتره نوماندا نو ټاکنیزه مبارزه کي پدی مجبورکړي چه خپل کمپاین په محتاطانه ډول سره بې مخ بوځی ترڅو دمخالفینو دجنجال څخه محفوظ پاتی شي،
دفیفا څارونکی راپو ورکوي چی دکونړ په ولایت کی ولسی جرګی ته نوماندان وایی: که چیرته دوی دټاکنو دمبارزی لپاره دخپلو ساحو څخه بهر ووځی نو دوسلوالو مخالفینو لخوا به ووژل شي، فیفا دقندهار او پکتیا په ولایتونو کي امنیت وضعیت داندیښنی وړښودلي او آن تردی چی پدغه ولایتونو کي نوماندان په ښکاره توګه او داډه زړه نشي کولي چي انتخاباتی مبارزه ترسره کړي ، دفراه په ولایت کي نوماندان دقومي مشرانو سره عامه جلسي کوي .
دمیدان وردګ او ارزګان په ولایت کي هم امنیت وضعیت د ډاډ وړندي نوماندان نشي کولاي چه په عامو ځایونو کي جلسي وکړي . دغور په ولایت یوه ښځینه نومانده په مرګ تهدید شوه او له تهدید وروسته کابل مهاجره شوه .
دکندوز په ولایت کي دیو نوماند دوه تنه نماین ده ګان دوسلوالو طالبانو لخوا اختطاف شول . دلو ګر په ولایت کي ټاکنو کمپاین دېنځو تنو دمرګ سبب شوو . دفیفا څارونکو خبر ورکړی چي دلوګرپه ولایت کي طالبانو یو دوکانداردیو نوماند دعکس په ځړولو ووژلو په مذکوره ولایت دبرکي په ولسوالي کي طالبانو دشبنامو په واسطه خلکو ته ګواښ کړي چي ولسی جرګي ته دټولو نوماندانو پوسترونه اوعکسونه دی له ښارڅخه لري کړي اوکه هرڅا ددی حکم څخه سرغړونه وکړه ددغه دوکاندارپه سرنوشت به اخته شي ، دلوګر په ولایت کي ددی برسیره څلورتنه ولسی وګړی پدي جرم ووژل شول چه دوی دیو کاندید په انتخاباتی مبارز ه کي فعاله برخه درلوده په وژل شووکي دوه تنه ورونه وو.
ګواښونکی تلیفونونه ،تهدید آمیزه شب نامی، دبعضی اشخاصو لخوا ګواښ د ټاکنو دمبارزی په لومړیو دری هفتوکي دڅارونکو لخوا شپاړس راپورونه ورکړل شوی دي ، په راپو رکي راغلي چی دغه ګواښونه عامو خلکو، نوماندانو، او انتخاباتی کمپاین نماینده ګانو ته شوي دي ، په لاندی جدول کي د سرطان له ۲ څخه تر ۲۴ سرطان دګواښ پیبني دفیفا لخوا په تفصیل سره درج شوی دي.

| ولایت | دګواښ ډول | ځای / ولسوالی | موخي | پیغام | مسئولین ا و مرتکبین |
|---|---|---|---|---|---|
| بدخشان | تلیفوني ګواښونه | نا څرګند | ښځینه نوماندان | دټاکنودمبارزی څخه لاس په سرکیدل | نا څرګند |
| بادغیس | دشپې لیک | دګنج او بالامرغاب ولسوالی | نوماندان | په ټاکنو له ونډی ډډه کول | وسلوال طالبان |
| بغلان | تلیفوني ګواښونه | نا څرګند | ښځینه نومانده | دکمپاین پریښودل | دټولنی غړي |
| بلخ | دشپې لیک | نا څرګند | عام خلک | په ټاکنو له ونډی ډډه کول | نا څرګند |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| فراه | دشپی لیک | مخ او څټ | قومی مشران | ددولت سره دمرستی نه ډډه کول | وسلوال طالبان |
| غزنی | دشپی لیک | ناهور،قره باغ،جاغوری،ملتان | دنوماندانو ملاتړی او دکمپاین گروپ | په ټاکنو کی له ونډی څخه ډډه کول او خلک گواښول | وسلوال طالبان |
| غور | نا څرگند | نا څرگند | ښځینه نوماند‌ه | په وژلو سره گواښول | وسلوال طالبان |
| غور | تلیفوني گواښونه | نا څرگند | ښځینه نوماند‌ه | تهدید به خشونت | نا څرگند |
| غور | دشپی لیک | نا څرگند | ښځینه نوماند‌ه | ټول پوسترونه له مینځه وړل | نا څرگند |
| غزنی | تلیفوني گواښونه | نا څرگند | دوه ښځینه نوماندانی | کمپاین پریښودل | نا څرگند |
| هرات | ناڅرگند | نا څرگند | ښځینه نوماند‌ه | کمپاین پریښودل | نا څرگند |
| کابل | دشپی لیک | سربی | عام خلک | په ټاکنو کی له ونډی څخه ډډه کول او خلک گواښول | وسلوال طالبان |
| خوست | دشپی لیک | لکن ،علی شیر ،بک | دکمیسیون کارکونکی او دکمپاین ډله | په ټاکنو کی له ونډی څخه ډډه کول او خلک گواښول | طالبان او حزب اسلامی |
| خوست | تلیفوني گواښونه | نا څرگند | ښځینه نوماندانی | گواښ کول په زورولوسره | وسلوال طالبان |
| کندز | ناڅرگند | نا څرگند | ښځینه نوماند‌ه | دکمپاین پریښودل | وسلوال طالبان |
| لوگر | دشپی لیک | برکی برک ،چرخ ،خروار | چلوونکی ، دریوران | په موټربانډی دپوسترو له ځړولوڅخه ډډه کول | وسلوال طالبان |
| لوگر | دشپی لیک | برکی برک | عام خلک | دپوسترو دنمایش په وجه په ووژل شي | وسلوال طالبان |
| ننگرهار | دشپی لیک | دجلال اباد ښاردتالاشی څلورلاری | نارینه نوماندان او عام خلک | رایری باید ونه خرول شي | وسلوال طالبان |
| ننگرهار | گواښول دهری کورنی | درونته | عام خلک | درای ورکولو په صورت کی به موگوتي پری شي | وسلوال طالبان |
| پکتیا | دشپی لیک | سدوزی | عام خلک | په ټاکنوکی له ونډی څخه ډډه کول | وسلوال طالبان |
| پروان | دشپی لیک | د تجارت خونی ته نژدي | عام خلک | یوځانگړی نوماند ته گواښ | نا څرگند |
| پروان | تلیفوني گواښونه | سیادان | ښځینه نوماند‌ه | په ټاکنوکی له وړډی څخه ډډه کول | نا څرگند |
| اروزگان | دشپی لیک | شین گولی،لبلان،لندیانی | نارینه نوماند او عام خلک | په ټاکنوکی له ونډی څخه ډډه کول | وسلوال طالبان |

دیادولو وړده چی په زیاتو هغه سیمو کی چي امنیت یی ډاډمن ندي نوماندان به ورته نزدی سیموکي په سوله ایزه توګه خپل کمپاین پیل کړي، منفی رقابتونو او سلوالو ګواښونو ومحلی قومندانانو دځانګړو نوماندانو په ګټه لاس وښنی به دټاکنو په شفافیت منفی اثرات وکړي .

دټاکنو دمبارزی په لومړیو دری هفتوکي مینځ ته راغلي یښي چی دفیفا سره لیکل شوی دی په لاندی ډول سره دي:

دتخارپه ولایت کي دوه نوماندانو یو بل ته دمرګ ګواښونه کړی دي اویو بل نوماند په عام محضرکي خلکوته دوسلی دورکول دعده کړیده، او له خلکو یی غوښتی چی په قرانکریم سره دی سوګند پورته کړي چی بل چاته به رایه نه ورکوي ، دبدخشان ولایت څخه یوی ښځینه نوماندی د خپل مخالف لخوا دده دمرګ دجوړولو ددسیسي خبرورکړي دي. په دایکندی ولایت کی هم سیال نوماندان په عام محضرکی یو بل په وهلو اوټکولو سره ګواښ کړیدی، دغورپه ولایت کی دیو نوماند دکمپاین مسوول دبل نوماند لخوا وهل شوی دی ، دفاریاب په ولایت کي یوه ښځینه نومانده دځایی قومندان لخوا تهدید شوی نوموړی نوماندی دفیفا څارونکی ډلی ته وویل چی زما دامنیتی کسانو او دمقابل لوری دامنیتی کسانوترمینځ وهل ټکول ستغی سپوري ویل شویدی زه دیته اړشوم چی دخپل کمپاین دفترته تغیر ورکړم. دغیری کافی امنیتی تدابیرو باوجود خپل کمپاین ته دوام ورکوي ، په ځانګړی توګه دهیواد په څوارلسو ولایتونوکي : بادغیس ،بلخ،فراه،غور،هلمند،کندهار ،کندز،لوګر،ننګرهار،نیمروز،پکتیا،پروان،اروزګان او زابل کی دنوماندانولپاره بشپړامنیتی تدابیرندی نیول شوي ، دفیفا څاونکو دننګرهار،غور، اورزګان اوزابل په ولایتونو امنیتی چارواکی دامنیت په تامین کي دپاتی راتلو خبرورکوی، دننګرهارپه ولایت کی چی کله نوماندانو دامنیت دټینګښت په منظور امنیتی مسوولینو ته مراجعه کړیده منفی ځواب یی ترلاسته کړی دي او دبل پلوه پدغه ولایت کي یوتن نوماند ته دوه موتره پولس ورکړل شویدي ، هغه نوماندان چی ددولتی ح مای او مرستی څخه برخمن دی دهغوی امنیت په مناسبه توګه تامین دی او هغه نوماندان چی ددلتی چارواکو سره نزدی ندي هغوی دامنیت په باره کي تراوسه کوم اقدام ندی شوي، دجوزجان په ولایت کی هم ورته راپور ورکړل شویدی . دغورپه ولایت کی امنیتی چارواکي دیوتن پخوانی قوامندان ښکاره ملاتړکوی او په مکرر ډول دهغه په انتخاباتی غونډوکی برخه اخلي.
دفیفا څارونکي د جوزجان ،پکتیا،کابل ،سمنګان او تخارپه ولایتونوکي دنوماندانوپه غونډوکی په حکومتی یونیفارم کی دامنیتی چارواکو دګډون خبرورکوي ، په راپورکی راغلي دي چی په دغه ولایت کي دپولیسومش ران په منظم ډول دځانګړو نوماندانو لپاره کارکوی او خلک دیته هڅوي چي دځانګړی نوماند په ګټه کاروکړي.

## په ټاکنو کي دښځوګډون :

د روان کال دولسی جرګی په ټاکنوکی دښځو ګډون په دایمی توګه د ډول ډول ستونزو سره مخ دی ، په منظمه توګه ښځی ډارول کیږی ګواښول کیږي ، پدی اړه دفیفا څارونکو په لسو ځایونوکي نوماندانو ته دګواښ راپورونه ثبت کړی چه نهه یی یواځی ښځینه نوماندانو ته راجع دی، دشپی لخوا ښځینه نوماندان په تلیفون کی ګواښول کیږی دغه ګواښونه په لفظی اویا دشپی لیکونو په واسطه ترسره کیږی، اودویته ویل کیږی چه له کمپاین څخه لاس واخلی کنه سخته سزا به ووینی، په بعضی ولایتونوکي دمخالفو وسلوالولخوا ښځوته ویل شویدی چه په ټاکنوکي دونډی له اخستلو څخه ډډه وکړي، له راپورڅخه جوتیګی چی ګواښونه یو په دری ښځوته متوجه دی ، دفیفا په راپورکي اشخاص ندی په ګوته شوی البته دغه ګواښونه دسیال نومان دانو، ځای قومندانانو، او په ځانګړی توګه دهغه خلکو لخوا ترسره شوی چی په ټاکنوکی دښځو دګډون سره مخالف دی ،دفیفا څارونکی دښځوپرخلاف دګواښونو نورډولونه هم ذکرکړی لکه دهرات او بادغیس په ولایت کي ښځینه نوماندانی په کانو ویشتل شوی اوپوسترونه یی په منظمه توګه شلول کیږي.
دهیواد په زیاتره برخوکی نه یواځی دا چی دښځینه نوماندانو دکمپاین په مخ کی زیاتی ستونزی شتون لری بلکی دټاکنو په سیستم کی هم داسي څه شته چی دښځینه نوماندانو انتخاباتی مبارزه یی دستونزوسره مخ کړیده .

## دټاکنو له قوانینو څخه سرغړونی:

دټاکنو دمبارزی په لومړیو هفتوکی ولیدل شول چی حکومتی چارواکي ، والیان، او دوزارتونو کارکونکي چی د بادغیس ،بلخ،دایکندی ،هلمند ،جوزجان ،کابل ،خوست ،نورستان ،پکتیا ،پنجشیر،تخار او اروزګان په ولایتونوکي دوی دخپل نفوذ اومقام څخه په ګټی اخستنی سره دخپلی خوښی نوماند ته کارکوی او آن تردی چی بعضی دولتی چارواکی دنوماندانو دانتخاباتی کمپاین ددفتر عضویت لری ،دبیلګی په توګه دبلخ په ولایت کي دصحت عامی یوتن مسوول خلکوته دحشراتو دمرګ دوایی ورکوي او په بدل کي خلک دیته هڅوی چه دوی یوځانګړی نوماند ته رایه ورکړی،دجوزجان په ولایت کي دپوهنی دیو تن د فتر دانتخاباتی کمپاین په دفتر بدل شویدی، دفیفا په راپورکي راغلی دی هغه نوماندانو چی پخوایی ددولت په چوکاټ کي کارکړیدی اوس ددولتی امکاناتوڅخه ناوړه استفاده کوي،او آن تردی چی ددفتر ټول پرسونل او وسایل یی په خدمت کی دي ، دهرات په ولایت کی دکرهنی اومالداری

ریاست لخواپه بی ځایه شوو کسانو خوراکی توکی پدی هدف وویشل شول چه دوی یو ځانګړی نوماند ته رایه ورکړي،دنیمروز په ولایت کی یوتن نوماند دولایت دمقام له موثرڅخه په کمپاین کی استفاده کوی،
په زیاتره ولایتونو کي انتخاباتی غونډې په جوماتونواو ښونځیوکی ترسره کیږی او حا ل داچی دغه کار دټاکنو له مقرراتوڅخه ښکاره سرغړونه ده ، دفیفا دراپورپراساس په ځانګړی توګه د بلخ ،دایکندی ،فاریاب ،غزنی ،غور،کابل و کاپیسا په ولایتونوکي دجوماتونو اومکتبونو څخه په تبعیض آمیزشکل سره استفاده کیږی دښونځیو استادان خویادنوماندانو خپلوان دی اویاورس ره په دله ټپله کي شریک دي ، دتخار په ولایت کی یوه تنه ښځینه نوماندی دښونځی زده کونکی دیته هڅولی چی دوی درای ورکول کارتونه واخلی او خپله رایی همدیته ورکړی که څه هم دکارتونو په اخستلوکی داسی ماشومان هم شتون لری چی دکارت داخستلو عمریی ندی بشپړشوي خوبیاهم مدیره صاحبه پدی توانیدلی چی دغه ماشومانوته درایی ورکولو کارتونه واخلي، دټاکنو دقانون (۶۲) ماده داسی حکم کوی[ دشکایاتو کمیسیون په مرکزاو ولایتونوکي کولی شی چي دخپل صلاحیت سره سم د شکایتونو پرته له کوم اعتراض څخه ریسده ګی وکړی ] . دټاکنو له مقرراتو څخه سرغړونی په ولایتونوکی ترسترګو کیږی تراوسه پوری دشکایتوکمیسیون دټاکنوکمیسیون دټاکنو دقوانینو دمراعت کولو په منظورکوم جدی اقدام ندي کړي، ددولتی امکاناتو څخه ناوړه استفاده ، ددولتی کارمندانو په کمپاین کی فعاله ونډه په ممنوعه ځایونو کی دانتخاباتی غونډو دایره ول، او دیته ورته سرغړونی لاتراوسه پوری شتون لري چه داټول ددی ځرګندوی دي دشکایتواو انتخاباتو کمیسیون دټاکنو دقانون درعایت کولو په برخه کي چاندانی توجه نه کوي.

## دفیفا سپارښتینی:

- ✓ په ټاکنو کي دښکیلو اشخاصو پروړاندی ګواښونه ورځ په ورځ زیاتیږي او دا لړی ممکن دټاکنوترخته بهړی دوام وکړی، نولدی امله فیفا دامنیتی چاراوکو او داخله وزارت څخه په جدی او عاجله توګه ددی غوښتنه کوي چی په ټاکنو کي دښکیلو اشخاصو امنیت دی تامین کړی او پدی هکله دی چټک ګامونه پورته کړي.
- ✓ په ځانګړی توګه ښځینه نوماندانی په زیاتره منطقوکي دستونزو اوګواښونو سر ه مخ دی ، فیفا له امنتی چاراواکو څخه غواړی چی دښځینه نوماندانو دامنیت په برخه کی چټک اوکوټلی ګامونه واخلي،اودوی دی دپولیسو دتلیفونی شمارو ته معرفی کړی شی ترڅو دارتیاپه وخت کي ورسره مرسته او همکاری وشي.
- ✓ په ټول هیواد کي امنیت وضعیت داندیښنی وړدی درنو ټاکنو او دخلکو زیات ګډون له جدی ګواښ سره مخ دي،فیفا په دافغانی اونړیوالو ځواکونوغږکوي چي د خلکو او دټاکنو دمرکزونو دامنیت په ټینګښت کي دی کوټلي ګامونه واخلي دټاکنو دمرکزونو نتایجو څارنه اوبرسی دی په لږوخت کی په تیزی سره ترسره کړی.

## دټاکنو اړونده اداروته :

دټاکنولۀ قوانینو څخه ښکاره اومعلومداره سرغړونوته جدی پام اوتوجه نه کول به په ټاکنوکي روڼتوب اوشفافیت به له مینځه یوسي او ولس به دټاکنوپرپروسه بی باوره شي، فیفا دشکایتونو دکمیسیون او دټاکنو دخپلواک کمیسیون څخه تقاضا کوي چی دخپلو صلاحیتونو څخه دی کاراواخلي او دقانو ن ماتونکو پرخلاف دی قانونی چلند وکړی،ترڅو دیو پلوه دټاکنو روڼتوب تضمین او دبل پلوه دخلکو اعتماد اوباوردټاکنو پرپروسه زیات شي.

## دافغانستان حکومت ته :

دټاکنو په پروسه کي ددولتی چاراواکو لاس وهنی اودیو ځانګړی نوماند څخه ملاتردټاکنوبهیر اعتماد ته سخت زیان رسوي. فیفا دولسمشر ، وزیرانوڅخه غواړی چی په ډیری چټکي سره دی په ولایتونوکي والیانو او ټولو دولتی مسوولینو ته دی هدایت وکړي چی په ټاکنوکي دی دولتی وسایلو داستعمال څخه ځان وساتی او دولتی وسایط دی دنوماندانو په واک کی نه ورکوي.
دنوماندانو او ښځیه رایی ورکونکوو‌ۀول او تهدیدول ترسترګوکیږي،چه پدی کارسره دښځو ونډه سیاسی حقوق دچلینجونو سره مخ کوی . فیفا ټول ټاکنیز اورګانونه دیته هڅوي چی په خپلو ادارو کی دی دښځینه کارمندانو تعداد زیات کړی او داسي نور موثر تدابیردی ونیسی چه له امله یی دښځی په ټاکنو کي ونډه واخلي ترڅوددوی سیاسي حقوق لاپسی پیاوړشي.